# په تاسو کې دې هېڅاته مرګ نه راځي، مګر په داسې حال کې چې په الله ښه ګمان ولري

له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې د هغه د مرګ نه درې ورځې مخکې اورېدلي چې وييل يې: «په تاسو کې دې هېڅاته مرګ نه راځي، مګر په داسې حال کې چې په الله ښه ګمان ولري».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمان دې ته هڅوي چې هغه دې نه مري مګر په داسې حال کې چې په الله ښه ګمان ولري، داسې چې د ځنکدن پر مهال پرې د هيله مندۍ اړخ غالب وي چې الله تعالی به پرې رحم کوي او بخښې به يې، ځکه چې د عمل د ښه والي لپاره وېره اړينه ده، او هغه چې کوم حالت دی (ځنکدن) هغه د عملونو حالت نه دی، نو بايد چې د هيله مندۍ اړخ پکې غالب وي.